


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**الحمدلله الذی هدنا الی الاسلام و ما کنا لنهتدی لولا ان هدانا الله هو الرحمن علم القران خلق الانسان علم البیان هو الرب الاکرم الذی علم بالقلم علم الانسان مالم یعلم له الحمد کما یمبغی لجلال وجهه و عظیم سلطانه و جلیل انعامه الذی علمک مالم تعلم و کان فضل الله علیک عظیم.**

**وصل الله تعالی علی خیر خلقه الذ ارسله الی کافه الناس بشیراً و نذیراً وصلی الله تعالی علی خیر خلقه و اصحابه اجمین.**

**آما بعد:**

## فقد د دعاء محتاج

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اودس بـــــــــــيان

د حضرت ابوهريره (رض) نه روايت د چی رسول الله (ص) وفرمايل:

چې زما د امت به داسی حال کې حشر کيږي جې د اودس اندامونه به يې تک سپين وی په تاسو کی چې د چا طاقت کيږي نو خپله رڼايې دې زياته کړي(بخاری،مسلم).

د حضرت عثمان بن عفان (رض) سخه روايت د چې رسول الله (ص) وفرمايل: چی چا اودس وکړو او ښه ښايسته اودس يی وکړو د ده د بدن نه ګناهونه اوځی تر دجی د ده د نوکانو لاندې نه هم اوځي(مسلم).

د حضرت ابوهريره (رض) نه روايت دی چی رسول الله (ص) ايا تاسو ته هغه عمل وښايم کوم باندي چی الله (ج) ګناهونه معاف کوی او درجی پرې اوچتوي صحابه کرامو (رض) عرض وکړو ای د الله(ج) پيغمبره(ص) ولې نه نو رسول الله (ص) وفرمايل د سختی په وخت کی ښه طريقه سره اودس کول او مسجد ته زيات قدمونه اخستل او د سو مونځ سخه بل مونځ ته انتظار کول(مسلم).

د حضرت عمر بن خطاب (رض) نه روايت دي چی رسول الله (ص) وفرمايل: پاکوالی د ايمان نيمه حصه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحضرت عمر بن الخطاب (رض) سخه روایت دی چی رسول الله (ص) وفرمایل: په تاسو کی چی کوم کس پوره اودس وکړی او بیا دا دعا ووایی(**اشهد ان لا اله ال الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبدهُ ورسوله**)

ترجمه:ګواهی ورکوم چی د الله(ج) نه سیوا بل سوک د عبادت لایق نشته هغه یو د شریک ورسره نشته او ګواهی ورکوم چی محمد(ص) د الله (ج) پیغمبر او بنده دی

نو ده ته به د جنت اته واړه دروازې خلاصی شی د هرې دروازې نه چی یې خوښه وی داخل د شی.

د حضرت عبدالله بن عمر(رض) روایت د چی رسول الله (ص) وفرمایل:

چا چې د اودس د پاسه بل اودس وکړو نو ده له لس(۱۰)نیکی ورکړل شی(ترمذی)

د حضرت ابوهریره (رض) نه روایت د جی رسول الله (ص) وفرمایل:

چی کوم نفر په پاکو جامو کی د اودس په حالت کی ویده کیږي نو یو فرشته هغه سره شپه تیروی د شپی چی کوم وخت هم بیداریږی نو هغه فرشته وای ای الله(ج) د دې بنده مغفرت اوکړې چه دې اودس په حالت کی شپه تیره کړې ده(مجمغ الزواید)

فقیر(رحمه) فرمایی چې زما والد محترم ماته حدیث واورولو چی حضرت عبدالله بن سلام فرمایلی: چی ما په یو اسمانی کتاب کی کتلی دی چی کوم کس اودس ماتیدو سره فورا اودس کوی د ښځو خواته کورونو ته نه ځی او ناجایزی طریقی سره مال نه ګټی هغه ته د دنیا رزق بی حسابه ورکول کیږی(تنبه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عمران بن ابان (رض) وایی چې ما دحضرت عثمان (رض) او لیدلو چې هغوي اودس وکړو، خپل لاسونه باندې درې ځلی اوبه واچولی بیا یی دری ځلې مخ اووینځلو بیا یی خپل ښی لاس او ګس لاس سره د څنګلو اووینځل بیایی د سر مسحه وکړه بیا یی دواړه پښی درې درې ځلې اووینځلی بیا یی وفرمایل چې ما رسول الله (ص) په همداسی اودس کولو باندی لیدلی دی چې د هغې نه پس رسول الله(ص) فرمایلی کوم کس زما د اودس په شان اودس وکړی او بیا دوه رکعته مونځ ادا کړی چې په هغه کی د خپل نفس سره د دنیا خبره ونه کړی نو د هغه کس مخکینی او وروستنی ټول ګناهونه معاف کیږی (مراد دګناهونو صغیره ده)

**»د اودس په هکله اړین مسایل«**

**لومړی مسله:** چې یو اندام ووینځی نو بل به ورپسی فوراً وینځی چې دا اول اندام وچ نه شی که د یو اندام وچیدو نه پس بل اندام ووینځی اودس یی وشو خو د سنت خلاف.

**دوېمه مسله:**هر یو اندام وینځلو په وخت کی په هغه باندی لاس مږل هم سنت دی چې اوچ ځای پکی پاتی نه شی ټول اندام ته اوبه اورسی.

**درېمه مسله:** د وخت نه مخکی اودس کول او لمونځ ته تیاری کول دا مستحب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورمه مسله:** ترسو پورې چې مجبور نه وی پخپله دې اودس کوی چاته به نه وای چې ماته اوبه واچوه که چاته یې وویل چې ماته اوبه واچوه او دا رک روغ وه نو اودس یی مکروه ده.

**پینځمه مسله:** په اودسه کی به دنیا وی خبری نه کوی بلکی د هر اندام وینځلو وخت کی کلمه او بسم الله وای په وخت د اودس کی خبری کول مکروه دی.

**شپږم مسله:** په اوبو کی به اصراف نه کوی یعنی هر یو اندام به دری ځلو نه زیات نه وینځی.

**اومه مسله:** مخ ته به په زور اوبه نه اچوی دا مکروه دی ځینی خلک چی اودس کوی نو په مخ باندی داسی په تیزی اوبه اچوی چې د هغه څاڅکی په بل چا غورزیږی.

**اتمه مسله:**په وخت د اودس کی به خوله او سترګی کلک نه بنده وی که سترګی کلکې بندی کړی او وریځو ته اوبه اوته رسیدې نو اودس نه کیږی.

**نهمه مسله:** که په مانځه کی دومره په زوره اوخندل چی ګاونډی یې اواز واریدو نو مونځ او اودس دواړه مات شو.(مراد د ګاونډی نه هغه کس دی چی ده په خوا کی ولاړ وی )

که صرف دومره یې اوخندل چی صرف دی خپل د خندا اواز واوری بیا اودس نه ماتیږی خو مونځ یی مات شو که صرف غاښونه یی ښکاره شو خو اواز او نه وتو نو نه اودس مات دی نه مونځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسمه مسله:** په اودس کی څلور فرض دی
۱)مخ وينځل ۲)لاسونه وينځل ۳)د سر څلورمه حصه مسحه کول
۴) پښې وينځل.

**يوولسمه مسله:** د مخ اندازه د ويښتنو د راختلو د ځای نه واخله تر لاندې زنې پوری او د يو غوږ د پوستکی نه واخله تر دبل غوږ.و پوستکی پوری .

**دولسمه مسله:** د لاسونو وينځل دا دی جی دواړه لاسه لاسونه به د څنګلو سره ووينځی .

**ديارلسمه مسله:**او د سر مسحه کی څلورمه حصه فرض ده او ټول سره مسحه کول سنت دی

**څوارلسمه مسله:** دواړه پښی سره د ګيټو وينځل فرض دی.

**پنځلسمه مسله:** په دې څلورو فرضو کی که يو ويښته هومره ځای اوچ

پاتی شو لکه د نوکانو لاندی اوړه يا د لويو نوکانو لاندی حصه يا تنګه ګوته يا د تنګ بنګړی و غيره لاندی حصه نو په دې صورتونو کی اودس نه کيږی.

اوس به تاسو ته د اودس طريقه بيان کړی شی تاسو ورته ښه متوجه شئ ځکه چې د اکثرو خلکو اودس غلط وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اودس مکمله طریقه

اودس کوونکی له پکار دی چه د اودس کولو په وخت کی قبلی ته مخ کړی او کوشش به کوی چی په اوچت زای باندی کینی چی د اوبو څاڅکی په ده نه راځي او بسم الله به اووایی.

اول به درې ځلې لاسونه ووینځی تر مړوندو پورې بیا به درې ځلی خوله اووینځی او مسواک به اوکړی که مسواک نه وی نو په ګوتو به غاښونه اومږی او که روژه دار نه وی نو غړه غړه به کوی چی تولې خولې ته اوبه اورسی.

بیا به درې ځلې پوزی ته اوبه واچوی او په ګس لاس دې پوزه پاکه کړی.

بیا به دری ځلې مخ ووینځی د تندی د ویښتانو سخه نیولی تر زنې لاندی پوری او د یو غوږ سخه تر بل غوږه پوری بیا به دری ځلی لاسونه ووینځی تر څنګلو پوری او به ښی لاس وینځی بیا به ګس لاس.

ګوتی یا بنګړی هر څه چی په لاس کی وی هغه به خوزوی بیا به تول سره مسحه کړی بیا به غوږونه مسحه کړی بیا به سټ مسحه کړی بیا به ښی پښه تر ګیټو پوری دری ځلی ووینځی بیا به ګسه پښه دری ځلی اووینځي بیا به د ګس لاس په کچه ګوته به یی ختم کړی.

دا هم وه د اودس طریقه مونږ او تاسی باید په همدا طریقه باندی اودس وکړو ترسو وکولی شو چی د الله (ج) رضا لاس ته راوړو.

الله (ج) د اول ماته بیا تاسو ته د ښه اودس کولو توفیق را نصیب کی

ومن الله التوفیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**